# يونس

**مکی سورة دی ۱۰۹ آيتونه لری**

**بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ**

الٓرۚ تِلۡكَ ءَايَٰتُ ٱلۡكِتَٰبِ ٱلۡحَكِيمِ ١

**الف- لام- را( په حقیقی معنی يې الله تعالی او رسول صلی الله علیه وسلم ښه پوهيږی). دا له حکمت نه د ډک( با عظمته) کتاب آيتونه دی،(هغه مقدس کتاب چې مضامين او محتويات يې له تغير او تحريف نه کاملاً محفوظ دی، علوم يې له عقل او حکمت سره موافق او مطابق دی،احکام يې تل تر تله او ابدی دی او له ځان نه وروسته د هيڅ ناسخ کتاب وجود نه منی،اخبار او قصص يې په واقعيت او حقيقت ولاړ دی او د کائناتو رب، عليم او حکيم ذات الله تعالی پخپل کامل علم سره نړيوالو ته نازل کړی دی).**

أَكَانَ لِلنَّاسِ عَجَبًا أَنۡ أَوۡحَيۡنَآ إِلَىٰ رَجُلٖ مِّنۡهُمۡ أَنۡ أَنذِرِ ٱلنَّاسَ وَبَشِّرِ
ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ أَنَّ لَهُمۡ قَدَمَ صِدۡقٍ عِندَ رَبِّهِمۡۗ قَالَ ٱلۡكَٰفِرُونَ إِنَّ
هَٰذَا لَسَٰحِرٞ مُّبِينٌ ٢

**آيا خلکو ته دا خبره د تعجب او حيرانتيا وړ ده چې د دوی له جنس نه يو سړی ته وحي استوو چې(باغيان او سرغړوونکی) خلک(د کفر، ناشکری،د الله تعالی د نافرمانی، گناه او ظلم له ناوړو عواقبو) وويروی او ايمان راوړونکو ته د خپل رب په حضور کې د لوړ مقام او اجر زيری ورکړی.( لجوجو او بې منطقو) کافرانو وويل: دا سړی خو ښکاره په ښکاره کوډگر دی.**

إِنَّ رَبَّكُمُ ٱللَّهُ ٱلَّذِي خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ فِي سِتَّةِ أَيَّامٖ ثُمَّ ٱسۡتَوَىٰ
عَلَى ٱلۡعَرۡشِۖ يُدَبِّرُ ٱلۡأَمۡرَۖ مَا مِن شَفِيعٍ إِلَّا مِنۢ بَعۡدِ إِذۡنِهِۦۚ ذَٰلِكُمُ ٱللَّهُ
رَبُّكُمۡ فَٱعۡبُدُوهُۚ أَفَلَا تَذَكَّرُونَ ٣

**حقيقت دادی چې ستاسو رب، الله دی، هغه ذات چې آسمانونه او ځمکه يې په شپږو ورځو( مرحلو) کې پيدا کړل، وروسته د سلطنت او ټولواکی په تخت کيناست،د کائناتو او هستی د جهان چارې ( د منظمو او مستحکمو**

قوانینو په وضع کولو او د خپل حکمت او مصلحت په رڼا کې ) چلوی. هیڅوک د هغه له اجازې نه غیر د هغه
حضور ته( د کوم کار) سپارښتنه نشي کولی. هو، همدا الله ستاسو رب دی، یوازې د هغه عبادت وکړی، آیا(
فکر او عقل مو په کار نه اچوئ او) پند او عبرت نه اخلئ؟

إِلَيْهِ مَرْجِعُكُمْ جَمِيعًا ۖ وَعْدَ ٱللَّهِ حَقًّا ۚ إِنَّهُۥ يَبْدَؤُا۟ ٱلْخَلْقَ ثُمَّ يُعِيدُهُۥ
لِيَجْزِىَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَعَمِلُوا۟ ٱلصَّٰلِحَٰتِ بِٱلْقِسْطِ ۚ وَٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟
لَهُمْ شَرَابٌ مِّنْ حَمِيمٍ وَعَذَابٌ أَلِيمٌۢ بِمَا كَانُوا۟ يَكْفُرُونَ ﴿٤﴾

تاسو ټول بیرته د هغه حضور ته ورګرځئ، دغه ستاسو سره د الله تعالی وعده ده، حقه او ثابته وعده. بیشکه
همدغه ذات( چې د خلقت نظام یې اختراع کړی) مخلوق پیدا کوی او( له مرګ نه وروسته یې د قیامت په ورځ)
بیا راژوندی کوی تر څو د ایمان خاوندانو او نیک عمله خلکو ته د عدالت او انصاف په رڼا کې اجر او بدله
ورکړی او کافرانو ته د هغوی د مکررو کفری اعمالو په سزا کې د جوشیدلو اوبو څښاک او دردوونکی عذاب
لیکل شوی دی.

هُوَ ٱلَّذِى جَعَلَ ٱلشَّمْسَ ضِيَآءً وَٱلْقَمَرَ نُورًا وَقَدَّرَهُۥ مَنَازِلَ
لِتَعْلَمُوا۟ عَدَدَ ٱلسِّنِينَ وَٱلْحِسَابَ ۚ مَا خَلَقَ ٱللَّهُ ذَٰلِكَ إِلَّا بِٱلْحَقِّ ۚ
يُفَصِّلُ ٱلْءَايَٰتِ لِقَوْمٍ يَعْلَمُونَ ﴿٥﴾

الله تعالی هغه ذات دی چې لمر یې ځلانده ( او نور ورکوونکی) او سپوږمۍ یې روښانه( او نور اخستونکی)
پیدا کړه او د هر یو لپاره یې خپل خپل مدارونه او منزلونه وټاکل ترڅو تاسو د کال( میاشتې او هفتې ) حساب
وپیژنئ( او د خپل ژوند پروګرامونه ورباندې ترتیب او منظم کړئ) الله تعالی دغه ټول کائنات په باوری توګه په
حقه پیدا کړی او خپل آیتونه او د قدرت دلایل( بې له ابهام نه) پوهو خلکو ته بیانوی.

إِنَّ فِى ٱخْتِلَٰفِ ٱلَّيْلِ وَٱلنَّهَارِ وَمَا خَلَقَ ٱللَّهُ فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ
لَءَايَٰتٍ لِّقَوْمٍ يَتَّقُونَ ﴿٦﴾

په یقین سره د شپې او ورځې په اختلاف (اوږدوالی او لنډوالی، تاریکی او روښنایی) او هغو شیانو کې چې الله
تعالی په آسمانونو او ځمکه کې پیدا کړی، د پرهیزګارانو لپاره( د الله تعالی د توحید، ربوبیت او کامل قدرت)
نښې پرتې دی.

إِنَّ ٱلَّذِينَ لَا يَرۡجُونَ لِقَآءَنَا وَرَضُواْ بِٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا وَٱطۡمَأَنُّواْ بِهَا
وَٱلَّذِينَ هُمۡ عَنۡ ءَايَٰتِنَا غَٰفِلُونَ ٧

**بیشکه هغه کسان چې زمونږ( د قیامت د ورځې) ملاقات ته هیله من نه دی( او د اعمالو له محاسبې نه هم منکر) او د دنیا په ژوند خوښ او ډاډمن دی او هغه کسان چې زمونږ له آیتونو نه ناخبره او بې پروا دی:**

أُوْلَٰٓئِكَ مَأۡوَىٰهُمُ ٱلنَّارُ بِمَا كَانُواْ يَكۡسِبُونَ ٨

**د دې ډول کسانو استوګنځی دوزخ دی چې د (ناوړو) اعمالو په بدل کی یې په برخه شوی دی.**

إِنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ يَهۡدِيهِمۡ رَبُّهُم
بِإِيمَٰنِهِمۡۖ تَجۡرِي مِن تَحۡتِهِمُ ٱلۡأَنۡهَٰرُ فِي جَنَّٰتِ ٱلنَّعِيمِ ٩

**( خو) هغه کسان چې ایمان یې راوړی او نیک عملونه کوی، الله تعالی به یې د ایمان له امله هغو جنتونو ته لار ښوونه وکړی چې( د قصرونو) لاندې یې( د الهی نعمتونو) رودونه روان دی.**

دَعۡوَىٰهُمۡ فِيهَا سُبۡحَٰنَكَ ٱللَّهُمَّ وَتَحِيَّتُهُمۡ فِيهَا سَلَٰمٌۚ وَءَاخِرُ
دَعۡوَىٰهُمۡ أَنِ ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ رَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ١٠

**هلته به د دوی د دعا( وینا)شروع په «سبحان الله» وی (یعنې : یا الله ته له هر ډول عیب او نقصان نه پاک یې). او یو بل ته به یې د ښه راغلاست کلام  په سلام پیل کیږی.او د دعا( وینا) پای به یې په « الحمدلله رب العالمین» وی (یعنې: ټولې ستاینې د الله تعالی ذات ته ځانګړې دی، چې د ټولو مخلوقاتو مالک او پالونکی دی).**

۞ وَلَوۡ يُعَجِّلُ ٱللَّهُ لِلنَّاسِ ٱلشَّرَّ ٱسۡتِعۡجَالَهُم بِٱلۡخَيۡرِ
لَقُضِيَ إِلَيۡهِمۡ أَجَلُهُمۡۖ فَنَذَرُ ٱلَّذِينَ لَا يَرۡجُونَ لِقَآءَنَا فِي طُغۡيَٰنِهِمۡ
يَعۡمَهُونَ ١١

که الله تعالی خلکو ته په عذاب ورکولو کې دومره بیړه او عجله کولی، څومره چې یې خلک په خیر غوښتنه کی کوی، نو د دوی د ژوند موده به( د عذاب د نزول او مجازات له امله) ژر پای ته رسیدلی وی. خو مونږ هغو کسانو ته چې زمونږ له ملاقات او( د اعمالو له محاسبې نه) منکر دی مهلت ورکوو( او هماغسی یې پخپل حال پریږدو) ترڅو پخپله سرغړونه او ګمراهۍ کې لاپسې لالهانده او سرګردانه وی.

وَإِذَا مَسَّ ٱلۡإِنسَٰنَ ٱلضُّرُّ دَعَانَا لِجَنۢبِهِۦٓ أَوۡ قَاعِدًا أَوۡ قَآئِمٗا فَلَمَّا
كَشَفۡنَا عَنۡهُ ضُرَّهُۥ مَرَّ كَأَن لَّمۡ يَدۡعُنَآ إِلَىٰ ضُرّٖ مَّسَّهُۥۚ كَذَٰلِكَ زُيِّنَ
لِلۡمُسۡرِفِينَ مَا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ ١٢

او کله چې انسان ته کوم تکلیف او صدمه ورسی نو که ملاست وی، که ناست وی او که ولاړ خو( زمونږ مرستې ته یې) د دعا لاسونه لپه کړی وی. او کله چې یې له مصیبت او کړاو نه خلاص کړو، په داسې ډول د ناشکرۍ او ګناهونو لاره خپلوی لکه چې هیڅکله یې د خپلو ستونزو د حل لپاره دعا هم نه وی کړی( او بیرته د خپل پخوانی غرور، تکبر او ځانمنۍ په نیلی سپور وی) . په دې ډول ټولو اسراف کوونکو ته د هغوی کړه وړه ښه او معقول په نظر ورغلی( تر دې چې د خپلو اعمالو په بد والی او قباحت هیڅ نه پوهیږی).

وَلَقَدۡ أَهۡلَكۡنَا ٱلۡقُرُونَ مِن قَبۡلِكُمۡ لَمَّا ظَلَمُواْ وَجَآءَتۡهُمۡ
رُسُلُهُم بِٱلۡبَيِّنَٰتِ وَمَا كَانُواْ لِيُؤۡمِنُواْۚ كَذَٰلِكَ نَجۡزِي ٱلۡقَوۡمَ
ٱلۡمُجۡرِمِينَ ١٣

او ستاسو نه مو وړاندې ډير قومونه د دوی د ظلم او تيری له امله تباه کړی، چې پيغمبران ورته له روښانه دلايلو او معجزو سره راغلل، خو هغوی وړباندې ايمان رانه ووړ، او مونږ هم ورته د معمول سره سم د ګناهکارانو او مجرمينو په حيث سزا ورکړه.

ثُمَّ جَعَلْنَٰكُمْ خَلَٰٓئِفَ فِى ٱلْأَرْضِ مِنۢ بَعْدِهِمْ لِنَنظُرَ كَيْفَ تَعْمَلُونَ ﴿١٤﴾

وروسته مو تاسو( ای محمدی امته) په ځمکه کې د هغوی ځای ناستی وټاکلی (ترڅو د ازمايش د اصل او قانون له مخې) وګورو چې څه ډول کارونه کوئ( او تر کومه حده الهی احکام تطبيقوئ).

وَإِذَا تُتْلَىٰ عَلَيْهِمْ ءَايَاتُنَا بَيِّنَٰتٍ ۙ قَالَ ٱلَّذِينَ لَا يَرْجُونَ لِقَآءَنَا ٱئْتِ بِقُرْءَانٍ غَيْرِ هَٰذَآ أَوْ بَدِّلْهُ ۚ قُلْ مَا يَكُونُ لِىٓ أَنْ أُبَدِّلَهُۥ مِن تِلْقَآئِ نَفْسِىٓ ۖ إِنْ أَتَّبِعُ إِلَّا مَا يُوحَىٰٓ إِلَىَّ ۖ إِنِّىٓ أَخَافُ إِنْ عَصَيْتُ رَبِّى عَذَابَ يَوْمٍ عَظِيمٍ ﴿١٥﴾

او کله چې زمونږ روښانه او واضح آيتونه هغوی( کفارو) ته ولوستل شی( او پکې د شرک او بت پرستئ غندنه شوی وی نو) هغه کسان چې زمونږ د ملاقات ارزو، نه لری وايی: له دې قرآن نه غير، بل قرآن راوړه( چې د بتانو توهين او سپکاوی پکې نه وی شوی) او يا دا آيتونه( په داسې آيتونو، چې زمونږ له خواهشاتو سره برابر وی) تبديل او ترميم کړه. ورته ووايه: زما سره نه ښايی چې له خپله ځانه په الهی آيتونو کې کمی زياتی وکړم. زه يوازې د هغې وحې پيروی کوم چې ماته راځی، زه د لويې ورځې( د عذاب) له ويرې، د خپل رب نافرمانی نشم کولی.

قُل لَّوْ شَآءَ ٱللَّهُ مَا تَلَوْتُهُۥ عَلَيْكُمْ وَلَآ أَدْرَىٰكُم بِهِۦ ۖ فَقَدْ لَبِثْتُ فِيكُمْ عُمُرًا مِّن قَبْلِهِۦٓ ۚ أَفَلَا تَعْقِلُونَ ﴿١٦﴾

ووایه: که د الله تعالی اراده نه وی، نه به ما دغه آیتونه تاسو ته لوستلی وی، او نه به تړ(الله تعالی)تاسو خبر کړی وی. ما خو لا د قرآن د نزول نه وړاندې ستاسو په منځ کې ډیر عمر( څلویښت کاله) تیر کړی( په صداقت، عفت، امانت داری او حسنه اخلاقو خو مې تاسو ټول قایل یاست، زما امیتوب او د کوم معلم په وړاندې نه کیناستل هم یو مسلم حقیقت دی،نو د دغو حقایقو په رڼا کې زه د خپلې پیغمبری د ثبوت لپاره دا قرآن وړاندې کوم) آیا تاسو له عقل او پوهې نه کار نه اخلئ؟

فَمَنۡ أَظۡلَمُ مِمَّنِ ٱفۡتَرَىٰ عَلَى ٱللَّهِ كَذِبًا أَوۡ كَذَّبَ بِـَٔايَٰتِهِۦٓۚ
إِنَّهُۥ لَا يُفۡلِحُ ٱلۡمُجۡرِمُونَ ١٧

نو له هغه نه بل لوی ظالم څوک دی چې په الله تعالی باندې دروغ تړی یا یې آیتونه تکذیبوی، بیشکه چې مجرمان به هیڅکله نجات پیدا نه کړی.

وَيَعۡبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ مَا لَا يَضُرُّهُمۡ وَلَا يَنفَعُهُمۡ
وَيَقُولُونَ هَٰٓؤُلَآءِ شُفَعَٰٓؤُنَا عِندَ ٱللَّهِۚ قُلۡ أَتُنَبِّـُٔونَ ٱللَّهَ بِمَا
لَا يَعۡلَمُ فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَلَا فِي ٱلۡأَرۡضِۚ سُبۡحَٰنَهُۥ وَتَعَٰلَىٰ عَمَّا
يُشۡرِكُونَ ١٨

او هغوی د الله تعالی په ځای د داسې شیانو( او بتانو) عبادت کوی چې نه دوی ته څه زیان رسولی شی او نه ګټه. او لا وایی چې( حقیقی رب خو هماغه الله تعالی دی خو دا (بتان، پیران او فقیران هم ځکه خوشاله ساتو چې) دوی به د الله تعالی په حضور کې زمونږ سفارش کوی. ورته ووایه: آیا الله ته د داسې سفارش کوونکو خبر ورکوئ چې هغه یې نه په آسمانونو کې پیژنی، نه په ځمکه کې.( هیڅ نشته) . الله تعالی له دغو ټولو شرکیاتو چې تاسو وربانده عقیده لری، پاک او مبرا دی.

وَمَا كَانَ ٱلنَّاسُ إِلَّآ أُمَّةً وَٰحِدَةً فَٱخْتَلَفُوا۟ ۚ وَلَوْلَا
كَلِمَةٌ سَبَقَتْ مِن رَّبِّكَ لَقُضِىَ بَيْنَهُمْ فِيمَا فِيهِ
يَخْتَلِفُونَ ﴿١٩﴾

او ټولې انسانی پرګنې( د توحيد په مرکز راټول شوی) يو امت و،( او د الله تعالی دين هم له ازله تر ابده يو واحد دين يعنی اسلام دی او په اساسی او حقه اعتقاداتو کې هيڅ فرق او اختلاف نشته او الله په هيڅ زمانه او هيڅ ملت کې شرک نه دی رواکړی خو خلکو پخپله د دين په چارو کې) اختلافات پيل کړل او که ستا د رب له لوری دا فيصله نه وای شوی ( چې د حجت د اتمام نه وړاندې عذاب نه راځی او د خلکو ترمنځ، د اختلافاتو وروستۍ فيصله به د قيامت په ورځ کيږی نو اوس به په همدې دنيا کې) د دوی ترمنځ فيصله شوی وی.

وَيَقُولُونَ لَوْلَآ أُنزِلَ عَلَيْهِ ءَايَةٌ مِّن رَّبِّهِۦ ۖ فَقُلْ إِنَّمَا ٱلْغَيْبُ لِلَّهِ
فَٱنتَظِرُوٓا۟ إِنِّى مَعَكُم مِّنَ ٱلْمُنتَظِرِينَ ﴿٢٠﴾

او وايی: ولې په پيغمبر باندې د هغه د رب له لوری( داسې )کومه معجزه نه نازليږی( چې مونږ يې غواړو؟) ورته ووايه: د غيب چارې يوازې د الله تعالی په اراده پورې اړه لری( او معلومه نه ده چې( الله تعالی کله د معجزاتو د راليږلو اراده کوی) نو تاسو هم انتظار وباسئ او زه هم درسره منتظر يم.

وَإِذَآ أَذَقْنَا ٱلنَّاسَ رَحْمَةً مِّنۢ بَعْدِ ضَرَّآءَ مَسَّتْهُمْ إِذَا لَهُم مَّكْرٌ فِىٓ ءَايَاتِنَا ۚ
قُلِ ٱللَّهُ أَسْرَعُ مَكْرًا ۚ إِنَّ رُسُلَنَا يَكْتُبُونَ مَا تَمْكُرُونَ ﴿٢١﴾

او کله چې مونږ، خلکو ته د ور رسيدلی تکليف او مصيبت نه وروسته، رحمت او هوسايی ورپه برخه کړو( نو د حمد او شکران په ځای) زمونږ د آيتونو( د تکذيبولو لپاره ډول ډول) نيرنګونه او چلوټې پيل کړی( لکه د مکې اوسيدونکو چې د اوه کلنې قحطۍ او وچکالۍ نه وروسته له رسول الله صلی الله عليه و سلم نه د دعا غوښتنه وکړه خو کله چې د رحمتونو بارانونه پيل او قحطی ورکه شوه، نو دوی بيرته خپلو فتنو او شرارتونو ته مخه کړه) ورته ووايه: الله تعالی( د فتنو او شرارتونو جوړوونکو ته) په سزا او مجازات ورکولو کې ډير چټک دی، ځکه زمونږ استازی( چې د اعمالو ليکونکی پرښتې دی) ستاسو ټولې دسيسې او ناوړه اعمال( ستاسو په عملنامو کې) ليکی.

هُوَ ٱلَّذِى يُسَيِّرُكُمْ فِى ٱلْبَرِّ وَٱلْبَحْرِ ۖ حَتَّىٰٓ إِذَا كُنتُمْ فِى ٱلْفُلْكِ وَجَرَيْنَ بِهِم
بِرِيحٍ طَيِّبَةٍ وَفَرِحُوا۟ بِهَا جَآءَتْهَا رِيحٌ عَاصِفٌ وَجَآءَهُمُ ٱلْمَوْجُ مِن
كُلِّ مَكَانٍ وَظَنُّوٓا۟ أَنَّهُمْ أُحِيطَ بِهِمْ ۙ دَعَوُا۟ ٱللَّهَ مُخْلِصِينَ لَهُ ٱلدِّينَ لَئِنْ
أَنجَيْتَنَا مِنْ هَـٰذِهِۦ لَنَكُونَنَّ مِنَ ٱلشَّـٰكِرِينَ ﴿٢٢﴾

**الله تعالی هغه ذات دی چې تاسو په وچه او بحر کې ګرځوی( او د سفر ټول وسایل او شرایط درته برابروی) تر دې چې تاسو په کښتنی( بحری جهاز) کې کښینی او هغه ( د ښې او مساعدې هوا) او نرم او ملایم باد په چلښت سره( د هدف په لور) روانه او ټول مسافر پکې خوشحاله وی، خو ناڅاپه سخت باد راوالوزی او له هرې خوا پرې د اوبو څپې راپورته شی. سپاره مسافر ټول په دې باوری شی چې( د خطر ناکو موجونو) تر محاصرې لاندې راګیر دی( او د نجات لاره نه لری، نو د مرګ او تباهی په دغه اضطراری حالت کې) خپل ایمان او عبادت یوازې د الله تعالی لپاره ځانګړې کوی او ورته دعا کوی چې که له دې( تباه کوونکی مصیبت نه) مو وژغوری مونږ به ستا شکر کوونکی بندګان شو.**

فَلَمَّآ أَنجَىٰهُمْ إِذَا هُمْ يَبْغُونَ فِى ٱلْأَرْضِ بِغَيْرِ ٱلْحَقِّ ۗ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ
إِنَّمَا بَغْيُكُمْ عَلَىٰٓ أَنفُسِكُم ۖ مَّتَـٰعَ ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا ۖ ثُمَّ إِلَيْنَا مَرْجِعُكُمْ
فَنُنَبِّئُكُم بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ﴿٢٣﴾

**خو کله چې هغوی ته نجات ورکړی شی، بې له ځنډه په ناحقه توګه په ځمکه کې د بغاوت جنډه اوچتوی. ای خلکو! ستاسو سرکشی او بغاوت یوازې ستاسو په زیان دی( څو په شمار ورځې به) د دې فانی دنیا( خوندونه او لذتونه واخلئ) خو بیا مو راتګ، زمونږ حضور ته دی، چې ستاسو ټولې کړنې به درته په وړاندې کیښودل شی( او حساب کتاب به درسره پرې وشی).**

إِنَّمَا مَثَلُ ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا كَمَآءٍ أَنزَلۡنَٰهُ مِنَ ٱلسَّمَآءِ فَٱخۡتَلَطَ بِهِۦ نَبَاتُ
ٱلۡأَرۡضِ مِمَّا يَأۡكُلُ ٱلنَّاسُ وَٱلۡأَنۡعَٰمُ حَتَّىٰٓ إِذَآ أَخَذَتِ ٱلۡأَرۡضُ زُخۡرُفَهَا
وَٱزَّيَّنَتۡ وَظَنَّ أَهۡلُهَآ أَنَّهُمۡ قَٰدِرُونَ عَلَيۡهَآ أَتَىٰهَآ أَمۡرُنَا
لَيۡلًا أَوۡ نَهَارٗا فَجَعَلۡنَٰهَا حَصِيدٗا كَأَن لَّمۡ تَغۡنَ بِٱلۡأَمۡسِۚ كَذَٰلِكَ
نُفَصِّلُ ٱلۡأٓيَٰتِ لِقَوۡمٖ يَتَفَكَّرُونَ ٢٤

**په حقیقت کې د دنیا د ژوند جریان( په ژر تیریدو کې سر تر پایه) هغو اوبو ته ورته دی چې مونږ یې له آسمانه راوروو،او د ځمکې شنه بوټی، انسانان او څاروی پرې د نوی ژوند سا واخلی او وربانديٍ وده کوی، تر هغه چې ځمکه ښه تازه او ښیرازه شی او خلک په دې باوری شی چې هر ډول حاصلات ترې اخستلی شی، خو ناڅاپه وربانديٍ د شپې یا ورځې، زمونږ (د عذاب) فرمان صادر او تطبیق شی او داسې یې تس نس او تالا ترغی کړی چې ته به وا پرون دلته له سره کومه خاشه نه وه زرغونه شوی( د دنیا د ټول ژوند مثال هم همدغسې درواخلی،تاسو به یې په رونق او ښایست باندې مین شی او دا حقیقت به درنه هیر وی چې دغه ټوله ځلا او پرکا،رونق او ښایست، سرسبزی او ښیرازی یوازې د څو موقتی ورځو لپاره ده او بیا به دا هرڅه د فنا او زوال سره مخ او نسیاً منسیا شی).په دې توګه مونږ د خپل قدرت ټولې نښې نښانې په پوره تفصیل سره د تفکر او بصیرت خاوندانو ته بیانوو.**

وَٱللَّهُ يَدۡعُوٓاْ إِلَىٰ دَارِ ٱلسَّلَٰمِ وَيَهۡدِي مَن يَشَآءُ إِلَىٰ صِرَٰطٖ مُّسۡتَقِيمٖ ٢٥

**الله تعالی( خپل بندګان) د امن او سلامتۍ کور( جنت) ته وربولی( او هلته د رسیدو لاره یې هم ورته روښانه کړې ده ، دارالسلام یعنې جنت هغه ځای دی چې اوسیدونکی یې له هر ډول، تکلیف، نقصان او آفت نه په امن کی دی، پربښتې ورته سلامونه کوی او الله تعالی هم ورته د سلام تحفه ورکوی). بیشکه هر چاته چې د الله تعالی اراده وشی د هدایت په مستقیمه لاره یې روانوی.**

۞ لِّلَّذِينَ أَحۡسَنُواْ ٱلۡحُسۡنَىٰ وَزِيَادَةٞۖ وَلَا يَرۡهَقُ وُجُوهَهُمۡ قَتَرٞ وَلَا ذِلَّةٌۚ
أُوْلَٰٓئِكَ أَصۡحَٰبُ ٱلۡجَنَّةِۖ هُمۡ فِيهَا خَٰلِدُونَ ٢٦

هغه کسان چې نیک عملونه یې کړی د بهترین مکافات( جنت) او لا له هغه نه هم د زیات اجر( د الله تعالی د ملاقات او رضا) مستحق دی. د دوی مخونه به نورانی او د ذلت او خواری له ګرد او غبار نه به کاملاً پاک وی. په حقه چې دوی جنتیان دی او هلته به تل تر تله استوګن وی.

وَٱلَّذِينَ كَسَبُوا۟ ٱلسَّيِّـَٔاتِ جَزَآءُ سَيِّئَةٍۭ بِمِثْلِهَا وَتَرْهَقُهُمْ ذِلَّةٌ ۖ مَّا لَهُم مِّنَ
ٱللَّهِ مِنْ عَاصِمٍ ۖ كَأَنَّمَآ أُغْشِيَتْ وُجُوهُهُمْ قِطَعًا مِّنَ ٱلَّيْلِ مُظْلِمًا ۚ أُو۟لَـٰٓئِكَ
أَصْحَـٰبُ ٱلنَّارِ ۖ هُمْ فِيهَا خَـٰلِدُونَ ﴿٢٧﴾

خو هغه کسانو ته به چې(په کفر، شرک او نفاق او مکررو جرایمو کې ملوث دی او په اخلاص یې توبه نه ده ویستلې) د جرم سره سم، مناسبه سزا ورکړی شی. حقارت او ذلت به وربانديې له چارچاپیره مسلط وی، (د الله تعالی له عذابه به یې ) هیڅ ساتونکی او ژغورونکی نه وی ، مخونه به یې داسې تک تور وی ته به وا د شپې توره پرده وربانديې غوړیدلې ده، په حقه چې دوی د دوزخ اوسیدونکی دی او هم هلته به تر ابده استوګن وی.

وَيَوْمَ نَحْشُرُهُمْ جَمِيعًا ثُمَّ نَقُولُ لِلَّذِينَ أَشْرَكُوا۟ مَكَانَكُمْ أَنتُمْ
وَشُرَكَآؤُكُمْ ۚ فَزَيَّلْنَا بَيْنَهُمْ ۖ وَقَالَ شُرَكَآؤُهُم مَّا كُنتُمْ إِيَّانَا تَعْبُدُونَ ﴿٢٨﴾

او( را یاده کړئ د قیامت) ورځ چې ټول خلک به سره راټول کړو او مشرکانو ته به ووایو: تاسو او باطل معبودان مو پخپلو ځایونو( مخامخ) ودریږئ،( بیا به قضاوت پیل کړو) د دوی ترمنځ به سخت اختلاف او نفاق پیدا شی( او د عابد او معبود په نوم پیوندونه به یې وشلیږی). باطل خدایان به( خپلو پیروانو ته په خطاب کې) ووایی چې تاسو خو په دنیا کې زمونږ عبادت نه دی کړی( بلکه د خپلو هوسونو پیروی مو کوله او د شیطان په لمسون او وسوسو مو، زمونږ د مجسمو پرستش کاوه) .

فَكَفَىٰ بِٱللَّهِ شَهِيدًۢا بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمْ إِن كُنَّا عَنْ عِبَادَتِكُمْ
لَغَـٰفِلِينَ ﴿٢٩﴾

نو د الله تعالی ګواهی زمونږ او ستاسو لپاره پوره ده، چې مونږ ستاسو له عبادت نه خبر نه وو.

هُنَالِكَ تَبْلُوا۟ كُلُّ نَفْسٍ مَّآ أَسْلَفَتْ ۚ وَرُدُّوٓا۟ إِلَى ٱللَّهِ مَوْلَىٰهُمُ ٱلْحَقِّ ۖ
وَضَلَّ عَنْهُم مَّا كَانُوا۟ يَفْتَرُونَ ﴿٣٠﴾

**همدا ځای دی چې هر څوک به خپل راستولی اعمال وازمایی( او ثمره به یې ووینی) ټول به د خپل حقیقی رب( الله تعالی) په حضور کې ولاړ وی ، او ټول هغه څه( بتان او پیران) به ترې ورک شی چې په دنیا کی یې په دروغو او ناحقه( د عبادت او پرستش لپاره) غوره کړی وو.**

قُلْ مَن يَرْزُقُكُم مِّنَ ٱلسَّمَآءِ وَٱلْأَرْضِ أَمَّن يَمْلِكُ ٱلسَّمْعَ وَٱلْأَبْصَٰرَ
وَمَن يُخْرِجُ ٱلْحَىَّ مِنَ ٱلْمَيِّتِ وَيُخْرِجُ ٱلْمَيِّتَ مِنَ ٱلْحَىِّ وَمَن يُدَبِّرُ ٱلْأَمْرَ ۚ
فَسَيَقُولُونَ ٱللَّهُ ۚ فَقُلْ أَفَلَا تَتَّقُونَ ﴿٣١﴾

**ورته ووایه! څوک دی چې تاسو ته د آسمان او ځمکې نه روزی درکوی، او څوک دی چې په غوږونو او سترګو مالکیت او حکومت کوی، څوک دی چې ژوندی له مړی او مړی له ژوندی راباسی( او ژوند او مرګ یې په واک کې دی)؟ او څوک دی چې( د هستی د جهان) او کائناتو ټولې چارې اداره کوی؟ بې درنګه به درته ووایی چې یوازې الله تعالی دی. نو ورته ووایه( آیا له قهر او غضبه یې نه ویریږې) او د پرهیزګاری لاره نه غوره کوی؟**

فَذَٰلِكُمُ ٱللَّهُ رَبُّكُمُ ٱلْحَقُّ ۖ فَمَاذَا بَعْدَ ٱلْحَقِّ إِلَّا ٱلضَّلَٰلُ ۖ فَأَنَّىٰ
تُصْرَفُونَ ﴿٣٢﴾

**همدغه دی الله تعالی، ستاسو حقیقی رب( چې دغه ټولې چارې سرته رسوی او ربوبیت او وحدانیت یې په قاطعانه او انکار نه منونکو دلایلو ثابت دی. د عبادت یوازینی مرجع او مقام دی او د هغه نه غیر د بل چا پرستش باطل او کفر دی). نو آیا د حق په مقابل کې له ګمراهۍ او ضلالت نه بل څه شته؟( بلکه نشته) نو ولې ( د شیطان په لمسون د هدایت) له حقې لارې ، بل خوا منحرف کیږۍ؟**

كَذَٰلِكَ حَقَّتْ كَلِمَتُ رَبِّكَ عَلَى ٱلَّذِينَ فَسَقُوٓا۟ أَنَّهُمْ لَا يُؤْمِنُونَ ﴿٣٣﴾

**( لکه څنګه چې د حق په مقابل کې له ګمراهۍ نه غیر، بل څه نشته) د فاسقانو او باغیانو په باب هم ستا د رب دا فرمان قاطع او ثابت دی چې( دوی د عناد او لجاجت له امله) د ایمان راوړلو له حق نه محروم دی.**

قُلْ هَلْ مِن شُرَكَآئِكُم مَّن يَبْدَؤُا۟ ٱلْخَلْقَ ثُمَّ يُعِيدُهُۥ ۚ قُلِ ٱللَّهُ يَبْدَؤُا۟ ٱلْخَلْقَ
ثُمَّ يُعِيدُهُۥ ۖ فَأَنَّىٰ تُؤْفَكُونَ ﴿٣٤﴾

( ای پیغمبره له مشرکانو پوښتنه وکړه او ورته) ووایه: آیا ستاسو په دغو معبودانو کې داسې کوم یو شته چې د خلقت سیستم جوړ کړی ( یعنې څوک پیدا کړی) او(له فنا کیدو او مرګ نه وروسته یې په قیامت کې) بیا راژوندی کړی؟ ووایه یوازې د الله تعالی ذات دی چې مخلوق پیدا کوی او (له فنا کیدو وروسته یې) بیا راژوندی کوی، نو ولې له حق نه منحرف کیږئ؟

قُلْ هَلْ مِن شُرَكَآئِكُم مَّن يَهْدِىٓ إِلَى ٱلْحَقِّ ۚ قُلِ ٱللَّهُ يَهْدِى لِلْحَقِّ ۗ أَفَمَن
يَهْدِىٓ إِلَى ٱلْحَقِّ أَحَقُّ أَن يُتَّبَعَ أَمَّن لَّا يَهِدِّىٓ إِلَّآ أَن يُهْدَىٰ ۖ فَمَا لَكُمْ
كَيْفَ تَحْكُمُونَ ﴿٣٥﴾

او دا هم ترې وپوښته چې آیا ستاسو په دغو معبودانو کې داسې کوم یو شته چې د حق لوری ته ( د خلکو) لارښوونه وکړی؟ ورته ووایه یوازې الله تعالی دی چې د حق د لوری لارښوونه کوی. نو هغه څوک چې د حق لارښوونه کوی ښه دی او که هغه چې د لارښود نه غیر خپله لاره هم نشی میندلی؟ نو په تاسو څه شوی، ولې( بې پوهې او بې بصیرته) قضاوت کوئ؟

وَمَا يَتَّبِعُ أَكْثَرُهُمْ إِلَّا ظَنًّا ۚ إِنَّ ٱلظَّنَّ لَا يُغْنِى مِنَ ٱلْحَقِّ شَيْـًٔا ۚ إِنَّ ٱللَّهَ عَلِيمٌۢ
بِمَا يَفْعَلُونَ ﴿٣٦﴾

په دوی کې اکثره کسان( په عقیده او رایه کې) د ګومان او اټکل پیروی کوی،خو ګومان او اټکل هیڅکله د حقیقت او واقعیت( د پوهې او معرفت) مقام نشی نیولی. بیشکه چې الله تعالی د هغوی په اعمالو ډیر ښه پوهیږی( او لازمه سزا به ورکړی).

وَمَا كَانَ هَٰذَا ٱلْقُرْءَانُ أَن يُفْتَرَىٰ مِن دُونِ ٱللَّهِ وَلَٰكِن تَصْدِيقَ ٱلَّذِى
بَيْنَ يَدَيْهِ وَتَفْصِيلَ ٱلْكِتَٰبِ لَا رَيْبَ فِيهِ مِن رَّبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿٣٧﴾

او دا قرآن د کوم انسان له خوا په دروغو نه دی جوړ شوی بلکه ( پخپل بې مثاله فصاحت، بلاغت او اعجاز سره) د الله تعالی حق کتاب دی چې د پخوانیو کتابونو تصدیق کوونکی او د هر( آسمانی کتاب) شرح کوونکی او توضیح کوونکی دی او (په دې کې) هیڅ شک او ابهام نشته چې د کائناتو د ستر رب له لوری رالیږل شوی دی.

أَمْ يَقُولُونَ افْتَرَاهُ ۖ قُلْ فَأْتُوا بِسُورَةٍ مِّثْلِهِ وَادْعُوا مَنِ اسْتَطَعْتُم مِّن دُونِ اللَّهِ إِن كُنتُمْ صَادِقِينَ ﴿٣٨﴾

آیا ( دغه ناپوهان او بې منطقه کسان، له حقیقت پیژندنی سره سره) وایی چې دغه کتاب، پیغمبر له ځانه جوړ کړی، ورته ووایه که پخپله ادعا کې ربښتینی یاست نو تاسو هم یو سورة راوړاندې کړئ او له الله تعالی نه غیر، هر څوک چې غواړئ هم د هغه په جوړولو کې خپلې مرستې ته راوبولئ.

بَلْ كَذَّبُوا بِمَا لَمْ يُحِيطُوا بِعِلْمِهِ وَلَمَّا يَأْتِهِمْ تَأْوِيلُهُ ۚ كَذَٰلِكَ كَذَّبَ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ ۖ فَانظُرْ كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الظَّالِمِينَ ﴿٣٩﴾

بلکه قرآن یې( په داسې عجولانه توګه) دروغ وګڼله چې په علومو او مفاهیمو یې نه پوهیږی او (د غیب د خبرونو او وړاندوینو) عینی تفسیر او تأویل هم ورته څرګند شوی نه دی. د دوی نه پخوانیو کسانو هم (هغه څرګند الهی حجتونه او دلایل چې پیغمبرانو ورته راوړی وو، بې له دې چه په علومو او تاویلاتو یې پوه شی) دروغ وګڼل خو وګوره چې ظالمان له څه ډول بد عاقبت او انجام سره مخامخ شول.

وَمِنْهُم مَّن يُؤْمِنُ بِهِ وَمِنْهُم مَّن لَّا يُؤْمِنُ بِهِ ۚ وَرَبُّكَ أَعْلَمُ بِالْمُفْسِدِينَ ﴿٤٠﴾

او د هغوی یوه ډله( په زړونو کې د قرآن په حقانیت) ایمان لری خو( د تکبر او عناد له مخې یې ردوی) او بله ډله یې( په حقانیت هم قایل نه دی او) ایمان هم وربانديې نه لری او ستا رب د مفسدانو په اعمالو( چې د حق په مقابل کې پخپل عناد او تکبر ټینګار کوی) ډیر ښه خبر دی( او مناسبه سزا به ورکړی).

وَإِن كَذَّبُوكَ فَقُل لِّي عَمَلِي وَلَكُمْ عَمَلُكُمْ ۖ أَنتُم بَرِيئُونَ مِمَّا أَعْمَلُ وَأَنَا بَرِيءٌ مِّمَّا تَعْمَلُونَ ﴿٤١﴾

او که دوی ستا رسالت دروغ وګڼی( او ته د دوی له ایمان راوړلو نه مایوسه شې) نو ورته ووایه چې ماته به زما د کړنو انجام رسی او ستاسو عمل به ستاسو د لارې مل وی( ما د حق پیغام تاسو ته ابلاغ کړی او خپل مسئولیت مې سرته رسولی دی). نه تاسو زما د عمل ذمه واران یی او نه زه ستاسو د عمل له امله مؤاخذه کیږم.

وَمِنۡهُم مَّن يَسۡتَمِعُونَ إِلَيۡكَۚ أَفَأَنتَ تُسۡمِعُ ٱلصُّمَّ وَلَوۡ كَانُواْ لَا يَعۡقِلُونَ ﴿٤٢﴾

او ځینې نور که څه هم غوږ نیسی( ستا قرأت او تعلیمی موعظو ته، خو د عقل او پوهې په غوږونو یې نه اوری او ځانونه کاڼه اچوی نو آیا ته خپل نصیحتونه) په هغو کڼو اوریدلی شې چې د پوهې له نعمت نه بې برخې دی( او د بغض او عناد له امله یې د حق اوریدو قوت او استعداد هم سلب شوی دی)؟

وَمِنۡهُم مَّن يَنظُرُ إِلَيۡكَۚ أَفَأَنتَ تَهۡدِي ٱلۡعُمۡيَ وَلَوۡ كَانُواْ لَا يُبۡصِرُونَ ﴿٤٣﴾

او یوه ډله یې هغه ده چې تاته په غړیدلو سترګو ګوری(ستا د نبوت څرګند دلایل او د اسلام حقانیت ډیر ښه درک کوی خو ته به وا هیڅ نه وینی ) نو آیا ته هغو ړندو ته لاره ښودلی شې چې( د عقل او بصیرت) سترګې یې ړندې دی؟

إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَظۡلِمُ ٱلنَّاسَ شَيۡـٔٗا وَلَٰكِنَّ ٱلنَّاسَ أَنفُسَهُمۡ يَظۡلِمُونَ ﴿٤٤﴾

بیشکه چې الله تعالی په خلکو هیڅ ظلم او زیاتی نه کوی بلکه همدا خلک دی( چې د ایمان په پریښودو او کفر په غوره کولو سره په لوی لاس) پخپلو ځانونو ظلم کوی.

وَيَوۡمَ يَحۡشُرُهُمۡ كَأَن لَّمۡ يَلۡبَثُوٓاْ إِلَّا سَاعَةٗ مِّنَ ٱلنَّهَارِ يَتَعَارَفُونَ بَيۡنَهُمۡۚ قَدۡ خَسِرَ ٱلَّذِينَ كَذَّبُواْ بِلِقَآءِ ٱللَّهِ وَمَا كَانُواْ مُهۡتَدِينَ ﴿٤٥﴾

( ای پیغمبره خلک وویروه د قیامت له حساب کتابه) هغه ورځ چې الله تعالی به دوی راټول کړی (او دوی به د دنیا خاطرات رایادوی او فکر به کوی چې په دنیا کی یې صرف ) د ورځې د یو ساعت په اندازه وخت تیر کړی، او ټول به ( د دنیوی ژوند په شان) یو بل له نږدې پیژنی. بیشکه هغه کسان به له سخت زیان سره

مخامخ وی چې د الله تعالی له ملاقات( او د قیامت د ورځې له حساب کتاب)نه منکر او د  هدایت له لارې منحرف  وو.

وَإِمَّا نُرِيَنَّكَ بَعْضَ ٱلَّذِى نَعِدُهُمْ أَوْ نَتَوَفَّيَنَّكَ فَإِلَيْنَا مَرْجِعُهُمْ ثُمَّ ٱللَّهُ شَهِيدٌ
عَلَىٰ مَا يَفْعَلُونَ ﴿٤٦﴾

د (هغه عذاب) یوه برخه چې مونږ یې له کافرانو سره وعده کوو ته به یې پخپل ژوند ووینې(لکه د اسلامی قواو بریا او د کافرانو ماتې، اسارت او قتلول) او یا به مونږ د دغو وعدو له تحقق نه وړاندې تا وفات کړو، خو په هر حال د دوی راتګ زمونږ په لور دی، بیا نو الله تعالی د دوی په کړو وړو ډیر ښه ګواه دی( او په قیامت کې ورته عذاب ورکوی، چې ته به یې هم  پخپلو سترګو وینې).

وَلِكُلِّ أُمَّةٍ رَّسُولٌ ۖ فَإِذَا جَآءَ رَسُولُهُمْ قُضِىَ بَيْنَهُم بِٱلْقِسْطِ
وَهُمْ لَا يُظْلَمُونَ ﴿٤٧﴾

او د هر امت لپاره یو پیغمبر دی، نو کله چې یې( د قیامت په ورځ) پیغمبر راشی، د دوی ترمنځ به په عدالت او انصاف فیصله وشی او هیڅ ظلم زیاتی به ورسره ونشی.

وَيَقُولُونَ مَتَىٰ هَٰذَا ٱلْوَعْدُ إِن كُنتُمْ صَٰدِقِينَ ﴿٤٨﴾

( او په مسخرو او ملنډو وایی) که رښتیا وایې دا( د قیامت او د اعمالو د محاسبې) وخت به کله رارسی؟

قُل لَّآ أَمْلِكُ لِنَفْسِى ضَرًّا وَلَا نَفْعًا إِلَّا مَا شَآءَ ٱللَّهُ ۗ لِكُلِّ أُمَّةٍ أَجَلٌ ۚ إِذَا جَآءَ
أَجَلُهُمْ فَلَا يَسْتَـْٔخِرُونَ سَاعَةً ۖ وَلَا يَسْتَقْدِمُونَ ﴿٤٩﴾

ورته ووایه: زه له ځانه د شر او زیان د دفع کولو او ګټې رسولو او راجلبولو طاقت او قدرت نه لرم( بلکه هغه څه رارسی چې الله تعالی راته لیکلی وی.) زما وظیفه یوازې د الهی پیغام ابلاغ او بیانول دی. د هر امت لپاره یو ټاکلی وخت دی کله چې یې وخت پوره شی،  یوه    شیبه به وړاندې وروسته نشی.

قُلْ أَرَءَيْتُمْ إِنْ أَتَىٰكُمْ عَذَابُهُۥ بَيَٰتًا أَوْ نَهَارًا مَّاذَا يَسْتَعْجِلُ مِنْهُ
ٱلْمُجْرِمُونَ ﴿٥٠﴾

ورته ووايه: په دې مې پوه کړې، چې که الهي عذاب دربانديْ د شپې يا ورځې راشي( آيا د دفع کولو لپاره يې کوم قدرت لرئ؟ بلکه مخه يې نشئ نيولی) نو بيا گناهکاران ولې په عجله او چټکی سره عذاب غواړي؟

أَثُمَّ إِذَا مَا وَقَعَ ءَامَنتُم بِهِۦٓۚ ءَآلْـَٰٔنَ وَقَدْ كُنتُم بِهِۦ تَسْتَعْجِلُونَ ﴿٥١﴾

او بيا مو چې کله عذاب په سر راشي نو په حقانيت به يې ايمان راوړئ؟( د عذاب د نزول په وخت کې به درته ووېل شي چې:) دا وخت (او ايمان؟) دا خو هماغه عذاب دی چې تاسو يې په عجله او تلوسه غوښتنه کوله.

ثُمَّ قِيلَ لِلَّذِينَ ظَلَمُوا۟ ذُوقُوا۟ عَذَابَ ٱلْخُلْدِ هَلْ تُجْزَوْنَ إِلَّا بِمَا كُنتُمْ تَكْسِبُونَ ﴿٥٢﴾

وروسته به ظالمانو ته ووېل شي: له دغه دايمي او تلپاتې عذاب نه خوند واخلئ. آيا د خپلو کړو وړو پوره پوره سزا درته دررسيده؟

۞ وَيَسْتَنۢبِـُٔونَكَ أَحَقٌّ هُوَ ۖ قُلْ إِى وَرَبِّىٓ إِنَّهُۥ لَحَقٌّ ۖ وَمَآ أَنتُم بِمُعْجِزِينَ ﴿٥٣﴾

او ستا نه پوښتنه کوي چې( آيا قيامت او دايمي عذاب چې مونږ ورباندې تهديدوې) حق( او په رښتيا راتلونکی) دی؟ ورته ووايه: هو- زما دې پخپل رب قسم وي چې يقيناً حق( او راتلونکی) دی او تاسو يې مخه نشئ نيولی( او نه د الله تعالی د سلطنت او قدرت له ساحې وتلی شئ.)

وَلَوْ أَنَّ لِكُلِّ نَفْسٍ ظَلَمَتْ مَا فِى ٱلْأَرْضِ لَٱفْتَدَتْ بِهِۦ ۗ وَأَسَرُّوا۟ ٱلنَّدَامَةَ لَمَّا رَأَوُا۟ ٱلْعَذَابَ ۖ وَقُضِىَ بَيْنَهُم بِٱلْقِسْطِ ۚ وَهُمْ لَا يُظْلَمُونَ ﴿٥٤﴾

او که له هغو کسانوسره( چې د کفر او شرک په غوره کولو سره يې پخپل ځان او نورو خلکو) ظلم کړی، د ځمکې ټولې خزانې او شتمنی په لاس کې وی، او( د قيامت د ابدی عذاب په بدل کې يې) فديه کړي( وبه نه منل شي) بلکه د شديد عذاب په ليدلو سره به يې د غم او پښيمانی فريادونه راپورته شي . د هغوی ترمنځ به د عدل او انصاف په رڼا کې فيصله کيږي او هيڅ ډول ظلم زياتی به ورسره ونشي.

أَلَآ إِنَّ لِلَّهِ مَا فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ۗ أَلَآ إِنَّ وَعْدَ ٱللَّهِ حَقٌّ وَلَٰكِنَّ
أَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُونَ ﴿٥٥﴾

واورئ! بيشكه د ځمكې او آسمانونو ټولې شتمنۍ او مخلوقات د الله تعالی د مالكيت او سلطنت په قلمرو كې شامل دی. پوه شئ چې( كافرانو ته د عذاب او عتاب وركولو لپاره) د الله تعالی وعده حقه ده خو زياتره خلک( د جهل او يا غفلت له امله د الله تعالی د تهديد په حقيقت) نه پوهيږی .

هُوَ يُحْىِۦ وَيُمِيتُ وَإِلَيْهِ تُرْجَعُونَ ﴿٥٦﴾

( الله تعالی)هغه ذات دی چې چاته ژوند وربښی( پيدا كوی يې) او څوک له ژونده محروموی( او وفات كوی يې) او تاسو ټول به بيرته د هغه حضور ته ورگرځی.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ قَدْ جَآءَتْكُم مَّوْعِظَةٌ مِّن رَّبِّكُمْ وَشِفَآءٌ لِّمَا فِى
ٱلصُّدُورِ وَهُدًى وَرَحْمَةٌ لِّلْمُؤْمِنِينَ ﴿٥٧﴾

ای بشری پرگنو! د رب له خوا مو تاسو ته پند او موعظه( قرآن) راغلې چې په سينو كې د پټو پرتو( اعتقادی او اخلاقی) ناروغيو لپاره شفا ده او د مؤمنانو لپاره سر تر پايه رحمت او هدايت دی.

قُلْ بِفَضْلِ ٱللَّهِ وَبِرَحْمَتِهِۦ فَبِذَٰلِكَ فَلْيَفْرَحُوا۟ هُوَ خَيْرٌ مِّمَّا
يَجْمَعُونَ ﴿٥٨﴾

(ای پيغمبره) ووايه:( دغه مبارک قرآن او محمد رسول الله او وربانديې ايمان) د الله تعالی د فضل او رحمت لورينه ده نو مؤمنان بايد د الله تعالی په دغه فضل او مرحمت خوشحاله شی ځكه دا ورته له ټولو هغو شتمنيو نه چې دوی يې راټولوی بهتره ده.

قُلْ أَرَءَيْتُم مَّآ أَنزَلَ ٱللَّهُ لَكُم مِّن رِّزْقٍ فَجَعَلْتُم مِّنْهُ حَرَامًا
وَحَلَٰلًا قُلْ ءَآللَّهُ أَذِنَ لَكُمْ ۖ أَمْ عَلَى ٱللَّهِ تَفْتَرُونَ ﴿٥٩﴾

ورته ووايه: هغه رزق او روزی چې تاسو ته الله تعالی رالستولې او تاسو پكې څه برخه پخپله خوښه حرامه او څه برخه حلاله كړې ده، ووايئ چې آيا (د دغه تحليل او تحريم) اجازه درته الله تعالی دركړې؟ او كه تاسو په الله تعالی پورې دروغ تړئ؟

وَمَا ظَنُّ ٱلَّذِينَ يَفۡتَرُونَ عَلَى ٱللَّهِ ٱلۡكَذِبَ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِۗ إِنَّ ٱللَّهَ
لَذُو فَضۡلٍ عَلَى ٱلنَّاسِ وَلَٰكِنَّ أَكۡثَرَهُمۡ لَا يَشۡكُرُونَ ٦٠

**او هغه خلک چې په الله تعالی پورې دروغ تړی، د قیامت په باب څه فکر لری؟( آیا فکر کوی چې حساب کتاب نشته، یا به ځو په شمار ورځې سزا ورکړی شی او یا به هیڅ مجازات نشی؟) بیشکه چې الله تعالی په ټولو خلکو د فضل او احسان لوروونکی دی( د توبې لپاره ډیر مهلت ورکوی او له ډیرو تقصیراتو یی تیریږی) خو اکثره خلک یې مشکور نه دی.**

وَمَا تَكُونُ فِي شَأۡنٖ وَمَا تَتۡلُواْ مِنۡهُ مِن قُرۡءَانٖ وَلَا تَعۡمَلُونَ مِنۡ عَمَلٍ إِلَّا
كُنَّا عَلَيۡكُمۡ شُهُودًا إِذۡ تُفِيضُونَ فِيهِۚ وَمَا يَعۡزُبُ عَن رَّبِّكَ مِن
مِّثۡقَالِ ذَرَّةٖ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَلَا فِي ٱلسَّمَآءِ وَلَآ أَصۡغَرَ مِن ذَٰلِكَ وَلَآ أَكۡبَرَ
إِلَّا فِي كِتَٰبٖ مُّبِينٍ ٦١

**ای پیغمبره! په هر کار او شغل کې چې مصروف یې او د قرآن هره برخه چې تلاوت کوې، او( ای خلکو) هر کار چې تاسو یې سرته رسوئ او پکې مصروف یاست ، مونږ په تاسو باندې ګواهان یو او په ځمکه او آسمان کې هیڅ شی ستا له رب نه پټ نه دی که هغه د ذرې په اندازه دی، که ترې کوچنی دی او که ترې لوی دی خو ټول په یوه روښانه( او مؤثق) کتاب کې ثبت دی.**

أَلَآ إِنَّ أَوۡلِيَآءَ ٱللَّهِ لَا خَوۡفٌ عَلَيۡهِمۡ وَلَا هُمۡ يَحۡزَنُونَ ٦٢

**واورئ! بی له شکه چې د الله په دوستانو، نه ویره شته او نه به خفه او پریشانه وی.**

ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَكَانُواْ يَتَّقُونَ ٦٣

**(د الله دوستان) هغه کسان دی چې ایمان یې راوړی او( پخپلو ټولو چارو کې الله تعالی حاضر او ناظر ګڼی او له عذابه یې) ویریږی.**

لَهُمُ ٱلۡبُشۡرَىٰ فِي ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا وَفِي ٱلۡأٓخِرَةِۚ لَا تَبۡدِيلَ
لِكَلِمَٰتِ ٱللَّهِۚ ذَٰلِكَ هُوَ ٱلۡفَوۡزُ ٱلۡعَظِيمُ ٦٤

هغوی ته د دنیا په ژوند او آخرت کې د خوښۍ زیری او بشارت دی، د الله تعالی په کلماتو(وعدو) کې هیڅ تغیر او تبدیل نشته او( مؤمنانو ته دغه الهی بشارت) په حقیقت کې تر ټولو لویه بریا ده.

وَلَا يَحۡزُنكَ قَوۡلُهُمۡۘ إِنَّ ٱلۡعِزَّةَ لِلَّهِ جَمِيعًاۚ هُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلۡعَلِيمُ ٦٥

او( ای پیغمبره!) د مخالفینو په( ناروا) خبرو( او ناوړو تبلیغاتو) مه خفه کیږه ځکه عزت (او قدرت) د الله تعالی په واک او اختیار کې دی، هغه ذات( چې هره خبره) اوری او په ټولو کړو وړو ډیر ښه پوه او خبر دی.

أَلَآ إِنَّ لِلَّهِ مَن فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَن فِي ٱلۡأَرۡضِۗ وَمَا يَتَّبِعُ ٱلَّذِينَ يَدۡعُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ شُرَكَآءَۚ إِن يَتَّبِعُونَ إِلَّا ٱلظَّنَّ وَإِنۡ هُمۡ إِلَّا يَخۡرُصُونَ ٦٦

واورئ! د آسمانونو او ځمکې ټول مخلوقات د الله تعالی د سلطنت او فرمان تابع دی او هغه کسان چې له الله تعالی نه غیر، د نورو باطلو خدایانوعبادت کوی( او د خپلو ستونزو د حل لپاره ورته) استغاثې او دعاګانې کوی( په دغه پرستش کې) یوازې د ګومانونو تابع دی او هرڅه د دروغو او اټکلونو په تله تلی.

هُوَ ٱلَّذِي جَعَلَ لَكُمُ ٱلَّيۡلَ لِتَسۡكُنُواْ فِيهِ وَٱلنَّهَارَ مُبۡصِرًاۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَٰتٖ لِّقَوۡمٖ يَسۡمَعُونَ ٦٧

الله تعالی هغه ذات دی چې شپه یې ستاسو د استراحت له پاره او ورځ یې روښانه پیدا کړه( تر څو پکې کار او زیار او ژوند ژواک وکړئ) بیشکه په دغو چارو کې د حق اوریدونکو کسانو لپاره( د الله تعالی د ربوبیت، توحید او قدرت) دلایل پراته دی.

قَالُواْ ٱتَّخَذَ ٱللَّهُ وَلَدٗاۗ سُبۡحَٰنَهُۥۖ هُوَ ٱلۡغَنِيُّۖ لَهُۥ مَا فِي
ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِۚ إِنۡ عِندَكُم مِّن سُلۡطَٰنِۭ بِهَٰذَآۚ
أَتَقُولُونَ عَلَى ٱللَّهِ مَا لَا تَعۡلَمُونَ ٦٨

( مشرکان د خپلو ناروا اټکلونو په اساس) وايې چې الله تعالی خو زوی لری، سبحان الله، هغه له هر عيب او نقص نه پاک او منزه او له هر شی بې نيازه دی، د آسمانونو او ځمکې ټول موجودات د هغه د مالکيت او سلطنت تابع دی. ستاسو سره د دغې (پوچې او بې بنسټه) ادعا د ثبوت لپاره هيڅ دليل او سند نشته، نو ولې د جهل او ناپوهی له مخې( دا ډول خبرې) الله تعالی ته منسوبوۍ؟

قُلۡ إِنَّ ٱلَّذِينَ يَفۡتَرُونَ عَلَى ٱللَّهِ ٱلۡكَذِبَ لَا يُفۡلِحُونَ ٦٩

ورته ووايه: څوک چې په الله تعالی باندې دروغ تړی هيڅکله به د نجات لاره و نه مومی.

مَتَٰعٞ فِي ٱلدُّنۡيَا ثُمَّ إِلَيۡنَا مَرۡجِعُهُمۡ ثُمَّ نُذِيقُهُمُ ٱلۡعَذَابَ
ٱلشَّدِيدَ بِمَا كَانُواْ يَكۡفُرُونَ ٧٠

په دغو دروغو به په دنيا کې څه لږه گټه وته تر لاسه کړی خو وروستی راتگ يې بيا زمونږ حضور ته دی چې د کفر په بدل کې به ورته سخت او دردوونکی عذاب ور وڅکو.

۞ وَٱتۡلُ عَلَيۡهِمۡ نَبَأَ نُوحٍ إِذۡ قَالَ لِقَوۡمِهِۦ يَٰقَوۡمِ إِن كَانَ كَبُرَ عَلَيۡكُم مَّقَامِي
وَتَذۡكِيرِي بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ فَعَلَى ٱللَّهِ تَوَكَّلۡتُ فَأَجۡمِعُوٓاْ أَمۡرَكُمۡ
وَشُرَكَآءَكُمۡ ثُمَّ لَا يَكُنۡ أَمۡرُكُمۡ عَلَيۡكُمۡ غُمَّةٗ ثُمَّ ٱقۡضُوٓاْ إِلَيَّ وَلَا
تُنظِرُونِ ٧١

او د نوح( گټور او له عبرت نه ډک داستان د مکې معظمې اوسيدونکو ته واوروه چې عبرت ترې واخلی او پوه شی چې که کفر او شرک ته ادامه ورکړی انجام او عاقبت به يې د نوح د قوم په شان وی) کله چې نوح خپل قوم ته وويل: ای زما قومه! که ستاسو سره زما اوږد ژوند او د الهی آيتونو په وسيله زما پند او نصيحت په تاسو سخت او درووند تماميږی،زما توکل په الله تعالی دی او تاسو خپل عزم او تصميم ونيسی او د خپلو( باطلو)

خدايانو قدرت هم ورسره مل کړی او زما په ضد ښکاره او ثابته مبارزه پیل کړی، او هر ډول صدمه چې مو خوښه وی ماته یې ورسوی( او یوه شیبه هم) ماته مهلت مه راکوی.

فَإِن تَوَلَّيۡتُمۡ فَمَا سَأَلۡتُكُم مِّنۡ أَجۡرٍۖ إِنۡ أَجۡرِيَ إِلَّا عَلَى ٱللَّهِۖ وَأُمِرۡتُ أَنۡ
أَكُونَ مِنَ ٱلۡمُسۡلِمِينَ ﴿٧٢﴾

او که زما د دعوت له منلو انکار وکړئ( زیان او ضرر مو خپل دی زه د خپل رسالت د ابلاغ لپاره) ستاسو نه هیڅ معاوضه نه غواړم بلکه زما اجر د الله تعالی په ذمه دی، او وظیفه مې دا ده چې( د حق د فرمانونو او احکامو په وړاندې) تسلیم او منونکی واوسم.

فَكَذَّبُوهُ فَنَجَّيۡنَٰهُ وَمَن مَّعَهُۥ فِي ٱلۡفُلۡكِ وَجَعَلۡنَٰهُمۡ خَلَٰٓئِفَ وَأَغۡرَقۡنَا
ٱلَّذِينَ كَذَّبُواْ بِـَٔايَٰتِنَاۖ فَٱنظُرۡ كَيۡفَ كَانَ عَٰقِبَةُ ٱلۡمُنذَرِينَ ﴿٧٣﴾

خو کله چې یې قوم هغه دروغجن وګاڼه، نو مونږ( نوح) او په کښتۍ کې ورسره سپاره خلک( له تباه کوونکی طوفانه) وژغورل او د ځمکې اقتدار او حکومت مو ورته وسپاره، او ټول هغه کسان مو چې زمونږ آیتونه یې دروغ ګڼلی وو، ډوب کړل، نو وګوره چې د ډارول شویو (نه منونکو) خلکو انجام او عاقبت څنګه و؟

ثُمَّ بَعَثۡنَا مِنۢ بَعۡدِهِۦ رُسُلًا إِلَىٰ قَوۡمِهِمۡ فَجَآءُوهُم بِٱلۡبَيِّنَٰتِ فَمَا كَانُواْ
لِيُؤۡمِنُواْ بِمَا كَذَّبُواْ بِهِۦ مِن قَبۡلُۚ كَذَٰلِكَ نَطۡبَعُ عَلَىٰ قُلُوبِ ٱلۡمُعۡتَدِينَ ﴿٧٤﴾

بیا مو له نوح نه وروسته( هود، صالح، ابراهیم، لوط، شعیب او نور) انبیاء د هغوی خپلو خپلو قومونو ته واستول چې روښانه دلایل یې ورته وړاندې کړل خو قومونه یې د خپلو اسلافو په شان په کفر او تکذیب ټینګ پاتې شول. په همدې توګه مونږ( له شرعی حدودو نه) د تېرلو تیری کوونکو په زړونو داسې ټاپې وهو( چې تل تر تله د حق او حقیقت له منلو څخه بې برخې وی).

ثُمَّ بَعَثۡنَا مِنۢ بَعۡدِهِم مُّوسَىٰ وَهَٰرُونَ إِلَىٰ فِرۡعَوۡنَ وَمَلَإِيْهِۦ بِـَٔايَٰتِنَا
فَٱسۡتَكۡبَرُواْ وَكَانُواْ قَوۡمًا مُّجۡرِمِينَ ﴿٧٥﴾

وروسته مو موسی او هارون له خپلو معجزو او نښانو سره، فرعون او د هغه د قوم اشرافو او سردارانو ته واستول خو هغوی لویی او تکبر وکړ او مجرمان ثابت شول.

فَلَمَّا جَآءَهُمُ ٱلۡحَقُّ مِنۡ عِندِنَا قَالُوٓاْ إِنَّ هَٰذَا لَسِحۡرٞ مُّبِينٞ ﴿٧٦﴾

نو كله چې ورته زمونږ له لورى د حق فرمان ورسيد( په تكبر سره يې) وويل: دا خو ښكاره سحر دى.

قَالَ مُوسَىٰٓ أَتَقُولُونَ لِلۡحَقِّ لَمَّا جَآءَكُمۡۖ أَسِحۡرٌ هَٰذَا وَلَا يُفۡلِحُ ٱلسَّٰحِرُونَ ﴿٧٧﴾

موسى ورته وويل: آيا د حق فرمان ته چې تاسو ته راغلى د سحر او جادو خطاب كوئ؟( او فكر نه كوئ چې) ساحران او جادوګران هيڅكله بريا او كاميابۍ ته نشى رسيدى.

قَالُوٓاْ أَجِئۡتَنَا لِتَلۡفِتَنَا عَمَّا وَجَدۡنَا عَلَيۡهِ ءَابَآءَنَا وَتَكُونَ لَكُمَا ٱلۡكِبۡرِيَآءُ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَمَا نَحۡنُ لَكُمَا بِمُؤۡمِنِينَ ﴿٧٨﴾

هغوى وويل: آيا د دې لپاره راغلى ياست چې مونږ د خپل پلار نيكه له لارې راوګرځوئ او (د واكدارو قبطيانو په تباه كولو سره) تاسو دواړه (ورونه د مصر) د هيواد په ټول قدرت او حكومت منګولې ټينګې كړئ. نو مونږ هيڅكله په تاسو دوو تنو ايمان نه راوړو.

وَقَالَ فِرۡعَوۡنُ ٱئۡتُونِي بِكُلِّ سَٰحِرٍ عَلِيمٖ ﴿٧٩﴾

فرعون خپلو درباريانو ته امر وكړ چې( د موسى د مغلوبولو لپاره) ټول پوه او مجرب جادوګران ماته حاضر كړئ.

فَلَمَّا جَآءَ ٱلسَّحَرَةُ قَالَ لَهُم مُّوسَىٰٓ أَلۡقُواْ مَآ أَنتُم مُّلۡقُونَ ﴿٨٠﴾

كله چې ساحران راغلل، موسى ورته وويل: څه چې لرئ( ميدان ته يې) راوغورزوئ.

فَلَمَّآ أَلۡقَوۡاْ قَالَ مُوسَىٰ مَا جِئۡتُم بِهِ ٱلسِّحۡرُۖ إِنَّ ٱللَّهَ سَيُبۡطِلُهُۥٓۖ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يُصۡلِحُ عَمَلَ ٱلۡمُفۡسِدِينَ ﴿٨١﴾

كله چې هغوى( خپلې رسۍ) راوغورزولې (او په نظربندۍ سره يې خلكو ته داسې ښكاره كړه چې ګواكې ټول ميدان له مارانو ډک دی) موسى وويل: څه چې مو دې صحنې ته راوړاندې كړل، ټول سحر او جادو دى او باور لرم چې الله تعالى به يې ډير زر له منځه يوسى ځكه د مفسدانو هيڅ اقدام ( چې د كفر اوبغاوت د پياوړتيا لپاره يې سرته رسوى) بريا او ثمر ته نه رسيږى.

وَيُحِقُّ ٱللَّهُ ٱلْحَقَّ بِكَلِمَٰتِهِۦ وَلَوْ كَرِهَ ٱلْمُجْرِمُونَ ﴿٨٢﴾

**او الله تعالی په ثابتو او مستحکمو دلایلو او معجزاتو سره حق ته برى ورکوى، که څه هم مجرمان وربانﺪى خفه او زړه چاودى شى.**

فَمَآ ءَامَنَ لِمُوسَىٰٓ إِلَّا ذُرِّيَّةٌ مِّن قَوْمِهِۦ عَلَىٰ خَوْفٍ مِّن فِرْعَوْنَ
وَمَلَإِيْهِمْ أَن يَفْتِنَهُمْ ۚ وَإِنَّ فِرْعَوْنَ لَعَالٍ فِى ٱلْأَرْضِ وَإِنَّهُۥ لَمِنَ
ٱلْمُسْرِفِينَ ﴿٨٣﴾

**نو ( په لو مړئ مرحله کې) د بنى اسرائیلو له څو تنو ځوانانو نه غیر، هیچا په موسی ایمان رانه ووړ، ځکه د فرعون او د هغه د قوم د سردارانو او اشرافو له زجر او شکنجو څخه ویریدل. بیشکه چې فرعون په مصرکې یو مستبد مطلق العنان ( او په ګناه ،ظلم او معصیت کې تر دې حده سخت زړى او) له حده تیرى کوونکى و (چې د خپلې خدایئ او الوهیت دعوى یې هم کړې وه) .**

وَقَالَ مُوسَىٰ يَٰقَوْمِ إِن كُنتُمْ ءَامَنتُم بِٱللَّهِ فَعَلَيْهِ تَوَكَّلُوٓا۟ إِن كُنتُم
مُّسْلِمِينَ ﴿٨٤﴾

**او( په مؤمنانو باندې د ویرې او اضطراب په سختو شرایطو کې) موسى( هغوى ته) وویل: اى زما قومه که په الله تعالى ایمان لرئ او د حق فرمانونو ته یې غاړه ږدئ نو په هغه توکل هم وکړئ .**

فَقَالُوا۟ عَلَى ٱللَّهِ تَوَكَّلْنَا رَبَّنَا لَا تَجْعَلْنَا فِتْنَةً لِّلْقَوْمِ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٨٥﴾

**هغوى وویل:بیشکه چې زمونږ توکل یوازې په الله تعالى دى( او یوازې د هغه له درباره مرسته غواړو:) اى زمونږ ربه! مونږ د ظالمانو په زجر او شکنجو مه ازمایه.**

وَنَجِّنَا بِرَحْمَتِكَ مِنَ ٱلْقَوْمِ ٱلْكَٰفِرِينَ ﴿٨٦﴾

**او په خپل مرحمت سره مو له کافرانو وژغوره.**

وَأَوْحَيْنَآ إِلَىٰ مُوسَىٰ وَأَخِيهِ أَن تَبَوَّءَا لِقَوْمِكُمَا بِمِصْرَ بُيُوتًا وَٱجْعَلُوا۟
بُيُوتَكُمْ قِبْلَةً وَأَقِيمُوا۟ ٱلصَّلَوٰةَ ۗ وَبَشِّرِ ٱلْمُؤْمِنِينَ ﴿٨٧﴾

( څومره چې د فرعون د هلاکت وخت رانږدې کیده ظلم او بربریت یې هم ورسره زیاتیده تر دې چې د اجتماعی عبادتونو د مخنیوی لپاره یې مساجد او معبدونه هم له څیرمې ونړول نو) مونږ موسی او د هغه ورور ته وحې وکړه چې( قوم یې باید پخپلو سیمو او محلو کې واوسی) او د خپلو کورونو( ځینې کوټې ) قبلې ته مخامخ جوړې کړئ چې د جوماتونو په حیث ترې ګټه واخلی. لمونځونه کوئ او مؤمنانو ته( د برې او نجات) زیری ورکړئ.

وَقَالَ مُوسَىٰ رَبَّنَآ إِنَّكَ ءَاتَيْتَ فِرْعَوْنَ وَمَلَأَهُۥ زِينَةً وَأَمْوَٰلًا فِى
ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا رَبَّنَا لِيُضِلُّوا۟ عَن سَبِيلِكَ ۖ رَبَّنَا ٱطْمِسْ عَلَىٰٓ أَمْوَٰلِهِمْ
وَٱشْدُدْ عَلَىٰ قُلُوبِهِمْ فَلَا يُؤْمِنُوا۟ حَتَّىٰ يَرَوُا۟ ٱلْعَذَابَ ٱلْأَلِيمَ ﴿٨٨﴾

او( کله چې موسی علیه السلام ولیدل، وعظ او نصیحت او عظیم الشأنه معجزو یې د فرعونیانو د سختو زړونو کنګلونه نرم نه کړل او ضد او عناد یې لاپسې زیاتیږی، نو په پوره تضرع سره یې الله تعالی ته دعا وکړه او) ویل یې: ای زمونږ ربه! فرعون او د هغه اشرافو او سردارانو ته دې په دنیا کې زیات شان او دبدبه او شتمنی ورکړې ( خو هغوی د دې په ځای چې دغه مال او شتنمی په خیریه چارو کې ولګوی او ستا د انعام او رحمت مشکور او ممنون شی، بالعکس یې) ستا له لارې څخه د خلکو د ګمراه کولو لپاره مصرفوی. نو ای ربه! د دوی مال او شتمنی تس نس او تباه کړه او زړونه یې سخت کړه چې ایمان رانه وړی او دردناک عذاب ووینی.

قَالَ قَدْ أُجِيبَت دَّعْوَتُكُمَا فَٱسْتَقِيمَا وَلَا تَتَّبِعَآنِّ سَبِيلَ ٱلَّذِينَ
لَا يَعْلَمُونَ ﴿٨٩﴾

(الله تعالی) وفرمایل: ستاسو دواړو دعا ومنل شوه (نو د الهی پیغام د ابلاغ لپاره) مصمم او ثابت قدم اوسی او د جاهلانو او ناپوهانو په پل، پل مه ږدی.

۞ وَجَٰوَزۡنَا بِبَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ ٱلۡبَحۡرَ فَأَتۡبَعَهُمۡ فِرۡعَوۡنُ وَجُنُودُهُۥ بَغۡيٗا
وَعَدۡوًاۖ حَتَّىٰٓ إِذَآ أَدۡرَكَهُ ٱلۡغَرَقُ قَالَ ءَامَنتُ أَنَّهُۥ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا ٱلَّذِيٓ
ءَامَنَتۡ بِهِۦ بَنُوٓاْ إِسۡرَٰٓءِيلَ وَأَنَا۠ مِنَ ٱلۡمُسۡلِمِينَ ﴿٩٠﴾

او بنی اسرائیل مو( چې شمیر یې څو لکو تنو ته رسیده د قلزم له بحره روغ رمټ) تیر کړل، فرعون او د هغه (مسلح او مجهز) لښکریان ورپسې د ظلم او تیری په نیت بحر ته ورګډ شول، خو چې خپل او د خپلو ټولو قواو مرګ او غرقیدل یې په عین الیقین سره ولیدل، اعلان یې وکړ: ما ومنله له هغه حقیقی رب نه غیر چې بنی اسرائیلو ورباندې ایمان راوړی، بل هیڅ معبود نشته او زه( د حق فرمان ته) تسلیم او غاړه ایښودونکی یم.

ءَآلۡـَٰٔنَ وَقَدۡ عَصَيۡتَ قَبۡلُ وَكُنتَ مِنَ ٱلۡمُفۡسِدِينَ ﴿٩١﴾

ورته په ځواب کی وویل شول: آیا اوس؟( چې وخت تیر دی او پخپله تباهی باوری شوې نو ایمان راوړې؟) له دې وړاندی خو سرسخت باغی او مفسد وې.

فَٱلۡيَوۡمَ نُنَجِّيكَ بِبَدَنِكَ لِتَكُونَ لِمَنۡ خَلۡفَكَ ءَايَةٗۚ وَإِنَّ كَثِيرٗا مِّنَ
ٱلنَّاسِ عَنۡ ءَايَٰتِنَا لَغَٰفِلُونَ ﴿٩٢﴾

نو نن مونږ ستا (بې روحه) تنې ته نجات ورکوو تر څو راتلونکی نسلونه پند او عبرت ترې واخلی ( او په الهی قدرت او د باغیانو او سرغړوونکو له انجام او عاقبت نه خبر شی.) په رښتیا چې زیاتره خلک زمونږ له نښو او دلایلو بې پروا دی.

وَلَقَدۡ بَوَّأۡنَا بَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ مُبَوَّأَ صِدۡقٖ وَرَزَقۡنَٰهُم مِّنَ ٱلطَّيِّبَٰتِ فَمَا
ٱخۡتَلَفُواْ حَتَّىٰ جَآءَهُمُ ٱلۡعِلۡمُۚ إِنَّ رَبَّكَ يَقۡضِي بَيۡنَهُمۡ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ فِيمَا كَانُواْ
فِيهِ يَخۡتَلِفُونَ ﴿٩٣﴾

او( د فرعونیانو له هلاکت نه وروسته مو د مصر او شام سرسبزې او ښیرازه او له نعمتونو ډکې سیمې) بنی اسرائیلو ته د هستوګنې لپاره ورکړې او هر ډول پاکه روزی مو ورباندې ولوروله خو هغوی له علم او پوهې سره سره( د موسی په نبوت او د الله په دین کې) خپلمنځی اختلافات پیل کړل،بیشکه چې ستا رب به د قیامت په ورځ د دوی ترمنځ د اختلافی مسایلو په باب فیصله وکړی.

فَإِن كُنتَ فِي شَكٍّ مِّمَّآ أَنزَلۡنَآ إِلَيۡكَ فَسۡـَٔلِ ٱلَّذِينَ يَقۡرَءُونَ
ٱلۡكِتَٰبَ مِن قَبۡلِكَۚ لَقَدۡ جَآءَكَ ٱلۡحَقُّ مِن رَّبِّكَ فَلَا تَكُونَنَّ مِنَ
ٱلۡمُمۡتَرِينَ ﴿٩٤﴾

نو( ای پیغمبره که فرضاً) ته زمونږ د نازل کړی شوې وحې په باب شکمن یې( د حقانیت په باب یې) له هغو خلکو پوښتنه وکړه چې له پخوا نه( آسمانی) کتاب لولی( او په هغه کې د قرآن د نزول خبر ورکړی شوی تر څو درته روښانه شی چې) تاته زمونږ وحې په حقیقت او واقعیت ولاړه ده نو متردد کیږه مه.

وَلَا تَكُونَنَّ مِنَ ٱلَّذِينَ كَذَّبُواْ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ فَتَكُونَ مِنَ
ٱلۡخَٰسِرِينَ ﴿٩٥﴾

او له هغو کسانو څخه هم مه کیږه چې زمونږ آیتونه دروغ ګڼی، که نه، ته به هم په زیانمنانو کې شمار شې.

إِنَّ ٱلَّذِينَ حَقَّتۡ عَلَيۡهِمۡ كَلِمَتُ رَبِّكَ لَا يُؤۡمِنُونَ ﴿٩٦﴾

هغه کسان چې( د عذاب په باب یې) ستا د رب فیصله محققه او صادره شوې، هیڅکله هم ایمان نه راوړی.

وَلَوۡ جَآءَتۡهُمۡ كُلُّ ءَايَةٍ حَتَّىٰ يَرَوُاْ ٱلۡعَذَابَ ٱلۡأَلِيمَ ﴿٩٧﴾

که( د الله تعالی د وحدانیت او قدرت) ټول دلایل او معجزات ورته په وړاندې هم کیږدې، تر هغه چې دردناک عذاب ووینی( خو هغه وخت به بیا ایمان راوړل ورته هیڅ ګټه و نه لری).

فَلَوۡلَا كَانَتۡ قَرۡيَةٌ ءَامَنَتۡ فَنَفَعَهَآ إِيمَٰنُهَآ إِلَّا قَوۡمَ يُونُسَ لَمَّآ ءَامَنُواْ
كَشَفۡنَا عَنۡهُمۡ عَذَابَ ٱلۡخِزۡيِ فِي ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا وَمَتَّعۡنَٰهُمۡ إِلَىٰ حِينٖ ﴿٩٨﴾

نو ولې د کوم کلی ( او ښار نافرمانه قوم په مناسب وخت) داسې ایمان نه و راوړی چې ګټه یې ورته رسولې وای، پرته د یونس له قوم نه چې( د عذاب د علایمو په لیدلو یې په ډله ایزه توګه ایمان راوړ او) مونږ دوی په دنیوی ژوند کې له سپکوونکی عذاب نه وژغورل او تر یوې ټاکلې مودې مو ورته ژوند ورکړ.

وَلَوۡ شَآءَ رَبُّكَ لَأٓمَنَ مَن فِي ٱلۡأَرۡضِ كُلُّهُمۡ جَمِيعًاۚ أَفَأَنتَ تُكۡرِهُ
ٱلنَّاسَ حَتَّىٰ يَكُونُواْ مُؤۡمِنِينَ ٩٩

**او که ستا رب وغواړي نو د ځمکنی کرې ټول اوسیدونکی به( په اجباری توګه ) ایمان راوړی( خو الله تعالی له خپلو بندګانو نه اجباری ایمان نه غواړی). ( ای پیغمبره!)آیا ته غواړې چې خلک په زور اوجبر ایمان راوړلو ته اړ کړې؟( دغه کار، نه معقول دی او نه ستا له طاقت نه پوره دی).**

وَمَا كَانَ لِنَفۡسٍ أَن تُؤۡمِنَ إِلَّا بِإِذۡنِ ٱللَّهِۚ وَيَجۡعَلُ ٱلرِّجۡسَ عَلَى
ٱلَّذِينَ لَا يَعۡقِلُونَ ١٠٠

**هیڅوک د الله تعالی له مشیت( او توفیق ورکولو) نه غیر، ایمان نشی راوړی او( دغه د ایمان امتیاز او ویاړ د هغه چا په برخه کیږی چې د الله د قدرت په بیان شویو نښو او آیتونو غور او فکر کوی او له عقل او پوهې نه کار اخلی). بې له شکه(د کفر او شرک) په نجاست کې هغه کسان ډوب او ککړ پاتې کیږی چې( د حقیقت پیژندلو لپاره) د تعقل او تفکر تکلیف په ځان نه تیروی.**

قُلِ ٱنظُرُواْ مَاذَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۚ وَمَا تُغۡنِي ٱلۡأٓيَٰتُ وَٱلنُّذُرُ عَن
قَوۡمٖ لَّا يُؤۡمِنُونَ ١٠١

**(ای پیغمبره! مشرکانو ته) ووایه چې په آسمانونو او ځمکه کې( د الله تعالی د قدرت، توحید او حکمت موجودو نښو او آیتونو ته) وګورئ، خو هغه کسان( چې د عناد او لجاجت له مخې) حقیقت منونکی نه وی نو دغه ټولې نښې او آیتونه ورته بې ګټې دی او( د انبیاو) تنبیه او تخویف هم ورته کوم ارزښت نه لری.**

فَهَلۡ يَنتَظِرُونَ إِلَّا مِثۡلَ أَيَّامِ ٱلَّذِينَ خَلَوۡاْ مِن قَبۡلِهِمۡۚ قُلۡ
فَٱنتَظِرُوٓاْ إِنِّي مَعَكُم مِّنَ ٱلۡمُنتَظِرِينَ ١٠٢

**نو آیا ( دې مشرکانو پخپل لجوجانه تکذیب او عناد سره) هغو سختو ورځو( او واقعاتو) ته سترګې نیولی چې پخوانی قومونه ورسره مخامخ شوی وو؟ ورته وایه( که داسې وی) نو انتظار ورته وباسی او مونږ به هم ورته سترګې په لار یو.**

ثُمَّ نُنَجِّي رُسُلَنَا وَالَّذِينَ آمَنُوا ۚ كَذَٰلِكَ حَقًّا عَلَيْنَا نُنجِ
الْمُؤْمِنِينَ ﴿١٠٣﴾

**(له پخوانيو قومونو سره زمونږ کړنه داسې وه چې د عذاب د نزول په وخت کې مو مجرمين او مکذبين هلاک کول او ) بيا مو خپل پيغمبران او په هغوی ايمان راوړونکی ( له عذابه) ژغورل او دا په مونږ لازمه او زمونږ ټينګه وعده ده چې( په هر عصر کې مخلصو) مؤمنانو ته نجات ورکړو.**

قُلْ يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِن كُنتُمْ فِي شَكٍّ مِّن دِينِي فَلَا أَعْبُدُ الَّذِينَ تَعْبُدُونَ مِن
دُونِ اللَّهِ وَلَٰكِنْ أَعْبُدُ اللَّهَ الَّذِي يَتَوَفَّاكُمْ ۖ وَأُمِرْتُ أَنْ أَكُونَ مِنَ
الْمُؤْمِنِينَ ﴿١٠٤﴾

**ووايه ای بشری پرګنو! که تاسو زما د دين(په احکامو او اصولو په ښه توګه پوه شوی نه يئ او د حقانيت په باب يې په شکوکو او شبهاتو کې غورزيدلی ياست نو( زه د خپل دين اصل او بنسټ چې خالص توحيد دی تاسو ته اعلانوم او د هغه د حقانيت او ستاسو د عقايدو په بطلان کې هيڅ شک نه لرم) تاسو چې د الله نه غير، د کومو باطلو شيانو عبادت کوئ،زه يې عبادت نه کوم(او ترې بيزاره او متنفر يم) بلکه يوازې د الله تعالی عبادت کوم، هغه ذات چې ستاسو مرګ يې په واک کې دی او زه په دې مکلف يم چې بايد مخلص مؤمن واوسم.**

وَأَنْ أَقِمْ وَجْهَكَ لِلدِّينِ حَنِيفًا وَلَا تَكُونَنَّ مِنَ
الْمُشْرِكِينَ ﴿١٠٥﴾

**( او راته حکم شوی چې په پوره همت او استقامت سره) د حق دين په لور متوجه اوسه او د شرک له آثارو ځان وساته.**

وَلَا تَدْعُ مِن دُونِ اللَّهِ مَا لَا يَنفَعُكَ وَلَا يَضُرُّكَ ۖ فَإِن فَعَلْتَ فَإِنَّكَ إِذًا مِّنَ
الظَّالِمِينَ ﴿١٠٦﴾

**او د الله تعالی په ځای د هغو شيانو عبادت و نه کړې چې نه درته ګټه رسوی او نه زيان.که نه د ظالمانو په ډله کې به وشميرل شې.**

وَإِن يَمْسَسْكَ ٱللَّهُ بِضُرٍّ فَلَا كَاشِفَ لَهُۥٓ إِلَّا هُوَ ۖ وَإِن يُرِدْكَ
بِخَيْرٍ فَلَا رَآدَّ لِفَضْلِهِۦ ۚ يُصِيبُ بِهِۦ مَن يَشَآءُ مِنْ عِبَادِهِۦ ۚ وَهُوَ ٱلْغَفُورُ
ٱلرَّحِيمُ ﴿١٠٧﴾

**او که الله تعالی تاته ضرر او صدمه ورسوی نو له هماغه ذات نه غیر يې درنه بل څوک ليرې کولی نشی او که د خير اراده درته وکړی او فضل او احسان درباندې ولوروی نو هيڅوک يې درنه منع کولی نشی. خپل هر بنده ته چې( الله تعالی) وغواړی خير وررسوی او ډير زيات ښښونکی او مهربان ذات دی.**

قُلْ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ قَدْ جَآءَكُمُ ٱلْحَقُّ مِن رَّبِّكُمْ ۖ فَمَنِ ٱهْتَدَىٰ
فَإِنَّمَا يَهْتَدِى لِنَفْسِهِۦ ۖ وَمَن ضَلَّ فَإِنَّمَا يَضِلُّ عَلَيْهَا ۖ وَمَآ أَنَا۠ عَلَيْكُم
بِوَكِيلٍ ﴿١٠٨﴾

**ووايه ای خلکو! بيشکه تاسو ته مو د رب له لوری حق راغلی نو څوک چې هدايت واخلی، ګټه يې خپله او په سمه لاره روان شوی او څوک چې ګمراه شی نو ګمراهی يې پخپل زيان ده او زه په تاسو باندی مراقب او څارونکی نه يم.**

وَٱتَّبِعْ مَا يُوحَىٰٓ إِلَيْكَ وَٱصْبِرْ حَتَّىٰ يَحْكُمَ ٱللَّهُ ۚ وَهُوَ خَيْرُ ٱلْحَٰكِمِينَ ﴿١٠٩﴾

**او( ای پيغمبره!) ته صرف د هغو احکامو پيروی وکړه چې تاته يې وحی کيږی( او د منکرينو او مخالفينو پروا مه ساته) صبر وکړه تر هغه چې الله تعالی( ستا او مخالفينو تر منځ) قضاوت وکړی، بيشکه چې الله تعالی تر ټولو ښه قضاوت کوونکی دی.**

**تمت سورة يونس بفضل الله و رحمته**
**والحمد لله رب العالمين**

**========================**